AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: عزيز نسين
ژباړن: احسان الله ارينزی

۲۰۲۶/۰۲/۰۹

# وټوخېږه... وټوخېږه ښځه دې طلاقه شوه!

## د «ورۍ مين» کتاب لومړۍ کيسه

قاضي عينکي سمي کړې او پوښتنه يې وکړه:
- ولې دې ښځې ته طلاق ورکوې؟
تورن خپله ګرتۍ سمه واغوسته او وې ويل:
- قاضي صيب! د خپل ټوخي له پاره طلاق ورکوم!
قاضي چې په خپل عمر کې داسي خبره نه وه اورېدلي، په اريانتيا پوښتنه وکړه:
- اېلتې مه وايه خبره سمه او سپينه وکړه.
- قاضي صيب، خبره سپينه ده. يوازې د ټوخي له پاره! شل کاله کېږي چې دا (شنده) زما ښځه ده؛ خو خدای نه جار شم په دې دومره کلونو کې يو ځل هم بلاربه نه شوه. زه هېڅ ګيله نه لرم او فکر کوم چې تقدير ته تدبير نشته؛ خو مېرمن مې يوه شپه هم آرام نه پرېږدي او ما ګرم بولي، د روځې سل ځلې پېغور راکوي:
-- خدای ښه پوهېږي تا به په ځوانۍ کې څه کړي وي، چې اوس دې اولاد نه کېږي. ته ما بدمرغه ته وګوره چې له تا شنډ سنډا سره مې واده وکړ او ځان مې په لوی لاس بدمرغه کړ!
زه ډاکټر ته لاړم او دې ته مې ثابته کړه چې عيب يې خپل دی؛ خو دا يې نه مني او نه غواړي چې ځان ډاکټر ته ښکاره کړي. کله نا کله چې زه لږ ټېنګار وکړم، اعصاب يې خراب شي او وايي:
- ټول ډاکټران درواغ وايي، زه له هغو ښځو څخه نه يم چې ځان ډاکټر ته بربنډ کړم!! مور مې څو کاله د مخه دوه ځلې غبرګوني وزېږول او پلار مې هم د خپل پلار له درې ګونو زامنو څخه و؛ نو څنګه کېدای شي چې زه دې شنډه وم؟ خدای خبر چې تا دا جعلي سند په څه چل ول، له کومه ځايه او له څنګه ډاکټر نه راوړی دی، هه؟...
نو قربان ما اوولس کاله حوصله وکړه او چوپ پاتې شوم؛ خو دا درې کاله کېږي چې نوې پلمه يې پيدا کړې ده، په کور کې يې زما په ټوخي بنديز لګولی او وايي:
- ته چې ټوخېږې، اعصاب مې خرابېږي!
هر څو چې ورته وايم:
- ګرانې! باور وکړه چې دا ټوخی ارادي نه دی.
نه يې مني او وايي:
- تا له ټوخي څخه کمپوز جوړ کړی دی: آها... آها... اوهو... ههه... او هاهاهاها... دا خو ټوخی نه دی، دا د جاز موسيقي يو ريتم دی چې ما پخوا ډېر اورېدلي. که يو ځلې بيا وټوخېدې نو ته پوه شه او کور دې!
صيب زه ورته وايم چې د ټوخی مخه نه نيول کېږي. باور وکړه زه دومره ځورېږم چې يو خدای ښه پوهېږي. ته خو پوهېږې چې ټوخی د خبرو- ژړا يا خندا په شان ارادي کار نه دی، په تېره بيا زما ټوخی چې د درې روپو کاټب يم او ارزانه سګرټ څکوم!
قاضي صيب لا مې لومړنی اوهو... اهه... آها... تر خوله نه وې وتلې، چې ښځه مې د عزرائيل په شان سترګې وباسي او چيغې کړي.
- خوله دې وتړه، ټوخی بس کړه....


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

- قربان دې شم قاضي صيب. زه مجبور شم او خوله بنده کړم. تا نه به يې څه پټوم په يوه شېبه کې مې سترګې رډې- رډې شي، د غاړې رګونه مې شخ ودرېږي، ژر له کوره ووزم، بهر بنه ډېر وټوخېږم او خپل زړه يخ کړم.
بيا لا سم کور ته نه يم ننوتلی چې ښځه مې په غوسه شي:
- بيا دې څه پختي بادولي؟ که مې بيا ستا ټوخی تر غوږه شو؛ نو غوږونه دې پرې کوم....
- په سترګو... خو...
- خو مو نه غواړي. ته غواړې چې خپل سات تېر کړې. رنګارنګ غږونه له خولې باسې! او بيا وايې چې زه ناروغه يم، ته مست يې مست.
- تر پروسږکاله پورې مې ځان ټېنګ کړ، د کوڅې سماوارګي ته به لاړم او بنه په زوره- زوره به وټوخېدم. د سماوار شاګردان ټول ما پېژني چې څنګه ورشم تود چای راته کېږدي او وايي:
- وروره چې څومره دې زړه غواړي هومره و ټوخېږه. دومره وټوخېږه چې په زړه کې دې هېڅ ارمان پاتې نه شي. موږ پوهېږو چې بده ښځه بده بلا ده!... وټوخېږه.... مه شرمېږه... وټوخېږه.
زه به هره روځ سماوار ته تلم. يوه روځ په داسې حال کې چې د سماوار د کړکۍ څنګ ته ولاړ وم او بنه په خوند ټوخېدم. ښځه مې لاس په لستوني وليدم او له کوڅې نه يې چيغې کړې:
- خوله دې بنده کړه، مه ټوخېږه....
د سماوار شاګرد ورته وويل:
- او ښځې په تا يې څه؟ دلته خو ستا کور نه دی، پرېږده چې وټوخېږي.
وروسته يې ما ته چې رنګ مې تك تور اوښتی و، وکتل او وې ويل:
- وټوخېږه عزيزه... زه درته ژوندی يم. څومره چې ټوخېدلی شې هومره وټوخېږه.
ښځې مې بيا چيغې کړې:
- خوله دې بنده کړه...
او شاګرد راته ويل:
- وټوخېږه... وټوخېږه... چورت مه وهه...
ما ډېره هڅه وکړه چې د خپل ټوخي مخه ونيسم، آن تر دې چې خپل سوك مې غونډ په خوله ومانده؛ خو څه ګټه يې ونه کړه.
له هغې ورځې وروسته مې د کوڅې سماوار پرېښود او د ښار لوی پارك مې د خپل (ټوخنځای) په توګه وټاکه... خو ښځه مې هملته هم راورسېده او زه يې بيا وشړلم.
قاضي صيب، زه فکر نه کوم چې ته به کله له داسې ستونزې سره مخامخ شوی وې!... ته زما په ستونزه نه پوهېږې....
قاضي صيب! د ډېر ټوخي په وجه له خپلې ښځې څخه دومره بېرېدلی وم، چې ډېر ليرې مې هم د ټوخېدو جرئت له لاسه ورکړی و.
يوه اوونۍ د مخه ناڅاپي په دفتر کې سخت ټوخي ونيوم، ژر مې خوله بنده کړه، سترګې مې سرې شوې، د غاړې رګونه مې وپړسېدل او رنګ مې تور واوښت، د دفتر مامورينو ټوپ کړل:
يو وويل:
- عباسه، ولې؟ ... څه در باندې وشول؟!
بل وويل:
- قلم دې نه وي تېر کړی...
- ښايي چې د ګوګړو خلي يې تېر شوي وي!
- هلئ... اوبه راوړئ.
- ډاکتر خبر کړئ.
- مالش ورکړئ...
- رييس صيب خبر کړئ.
هماغه و چې رييس راورسېد او امر يې وکړ چې زړه يې وموږئ... خو دې کار هم څه ګټه ونه کړه.
- راځئ چې لاسونه يې په زور له خولې څخه ليرې کړو. مړ به شي!
-عباسه...
زما خوله بنده وه او خبرې مې نه شوای کولای. هغه بيا وويل:
- هلکه عباسه! سا وباسه!
- اوبه راوړئ.
کله چې رييس په ډېر زيار زما خوله خلاصه کړه، کانګې راغلې او د رييس جامې مې ولړلې!
بيا نو پنځلس دقيقې پرله پسې وټوخېدم.
کله چې لږ ښه شوم د دفتر انډيوالانو پوښتنه وکړه:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

- هلکه شکر دی چې ښه شوې. څه خبره وه؟
- هېڅ، زه خو جوړ- روغ یم. په ما هېڅ نه دي شوي.
جناب رییس صیب په ترېو تندي وویل:
- ما په خپل ټول عمر کې داسې ټوخی او داسې کانګې نه وې لیدلې!
په هر صورت دا خبره تېره شوه. شپې ته ګاونډی علي خان له خپلو دوو لونبو سره زموږ کور ته راغلی وو. زما او علي خان مجلس ښه تود شو؛ ځکه دواړه د دوه مخالفو ګوندونو پلویان وو؛ خو ناڅاپه بیا دا ټوخی راغی. ژر مې لاسونه خولې ته ونیول، سترګې مې سرې شوې او د غاړې رګونه مې وپړسېدل. نږدې و چې وچووم!
علي خان په زاریو راته وویل:
- عباس خانه، ما خو به کومه بده خبره نه وي کړې؟ ولې دې وضعه دومره خرابه شوه؟
زه پرته له دې چې څه ووایم په خونه کې لور په لور وچورلېدم. علي خان بیا وویل:
- عباس... ګله،...!
ښځې مې رډ- رډ راته وکتل او چیغې یې کړې:
- خوله دې بنده کړه... مه ټوخېږه او که نه ... غوږونه به دې پرې کړم.
علي خان په زاریو شو:
- عباس خانه، که ما څه ویلي وي، بد مې کړي. زه خپلې خبرې بېرته اخلم او ښښنه غواړم!
رنګ مې تور اوښتی و، علي خان لا هم زارۍ کولې:
- عباس جانه، وروه، د زړه سره ما وبښه.
ښحې مې وویل:
- خوله دې بنده کړه... خوله دې ټینګه ونیسه....
علي خان زما خوا ته راغی، لونبې یې هم پاڅېدې او یو بل ته یې وکتل. ما د خپلې ښځې له ډاره دعاوې کولې چې د ټوخي غږ مې له خولې ونه وځي؛ خو ډېره ښښنه غواړم د ټوخي زور له بله ځایه ووت... هغه هم د دوو مېلمنو پېغلو په مخ کې!!!
دا وخت بیا په عباس د یوه زورور ټوخي څپه راغله، ژر یې لاسونه خولې ته اړم کړل.
قاضي په ډېر خپګان وویل:
- وټوخېږه... وټوخېږه... بېوزله... سم وټوخېږه.
ښځې مې وویل:
- خوله دې بنده کړه.. ونه ټوخېږې....
د غوندې منشي عباس ته ورغی او لاسونه یې له خولې څخه لیرې کړل. قاضي چیغې کړې:
- وټوخېږه... مه ډارېږه، ښه زړه یخ کړه.
ښځې یې بیا چیغه کړه:
- خوله دې بنده کړه... ونه ټوخېږې چې...
او قاضي په ډاډ ورته وویل:
- وټوخېږه... وټوخېږه.. چې څومره دې زړه غواړي هومره وټوخېږه؛ ځکه ما رایه ورکړه چې ښځه دې طلاقه شي!
عباس دومره وټوخېد چې په ژوند کې نه و ټوخېدلی؛ ښځې لا هم چیغې وهلې:
-خوله دې بنده کړه... مه ټوخېږه... پام چې وژنم دې... خوله دې بنده کړه!

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ